# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|



امین بسمل


۲۸ مارچ ۲۰۱۲



**دجرمني مونشن ښار په میرویس نیکه جومات کي دپنجوايي دمظلومو شهیدانو فاتحه واخیستل شوه**

مورږ بایرن مېشتو افغانانوله پخوانی خبرتیاسره سم دمیرویس نیکه په جومات کي دوروستی خونړۍ لسیزې د قربانیانو په ځانګړي ډول د پنجوايي د مظلوموشهیدانو فاتحه واخیسته .

دفاتحي په لمړی برخه کي دقران عظیم الشان ختم وشو ورپسي شهیدانوته دعاوې وشوې، پدې ترڅ کي یو چا امام ته غږ وکړ، چي پلاني ته هم لاس پورته کړئ عزیز یي وژل شوی دی، لاسونه موپورته او دعا مو ورته وکړه امام ورنه وپوښتل چي دا ستاسو عزیز دڅومره عمر و، ولي او چا وواژه؟

هغه په ځورېدلي اوزخمي زخمی غږ ځواب ورکړ، چي زلمی و پرون بهرنیوځواکونو وواژه .

تاسو باور وکړئ د هغه سړي غږ اودې خبرتول ناست کسان سخت غمجن او په قهر ځکه کړل، چي لاترڅو به مورږ سر په سر دغم په ټغر کښېنو؟

دامظلوم پښتون څه ګناه کړې، چي جنازه په جنازه اوفاتحه په فاتحه پسي اخلي ؟

له هغه څخه وروسته د هېوادپه مجهولي او تپل شوې جګړې خبرې وشوې **همدا راز په کلکه سره دافغانانو د ملي یووالي د ټینګښت غوښتنه وشوه .**

د وروستیو لسیزو په تېره بیا د دې وروستۍ لسیزې ناخوالي په منطق سـره محکومي شوې، دغوناخوالو نه یوازې دوینولښتي وبهول، بلکي دورونو قومونو ترمینځ يي دبیلتون تکي توري کرښي کش کړې خوله نېکه مرغه، چي زمورږ ورونه قومونه ترخپله وسه پورې ملي یووالي ته ژمن پاته دي .

دافغانانودیومشترک اوپیاوړي دریځ  په اړوند هم خبري وشوي څوپه یوه خوله  له نړیوالوپه  تېره بیاامریکاسره خبره سپیه کړو، چي آیا دستونځو دحل لار یوازې جګړه او ورور وژنه ده ؟

داوروستی  لس کلني نارواجګړې  خوهم موږ ګوډاومات کړو هم یي نړیوال  اقتصاداووګړنیز اعتبارمات کړ هم یې دبشر اوبشردوستي خبرې تر پوښتنولاندې  راوستي  له همدې کبله به بهتره داوي، چي دسولي غم وخورو.

له پورتنیوخبروڅخه وروسته  په اتفاق سره تصمیم ونیول  شوڅوپه  مونښن  ښارکي  دیو(جومات)جوړولو لپاره ځمکه واخلو.

د الله  تعالی دکور(جومات) دجوړېدو په  موخه  زموږ  بااحساسو، مسلمانو اوهېوادپالو افغانانو ۶۵۰۰۰پنځه شپېته زره  ایرو راټولي کړې موږ  هیله  من یو، چي  دالږی به  دوام وموومي او دا نېک تصمیم به ددې سبب  شي، چي زموږ  ماشومان به  زموږ په لار  راپسي  راروان  اوسي .

دافاني دنیاخوهسي هم  دوه ورځي  ده،  موږ به  نه یو خوزموږ اولادونه  او راتلونکي نسلونه  به  په  موږ وویاړي ، چي د خپلو  دیني او کولتوري  مراسمو دپه  ځای کولو لپاره ورته  دا لوی سوغات  دالله (ج) کور مانا(جومات)  پرېږدو.

درنو لوستونوکو!

موږ له  تاسو ټولومسلمانو ورونو څخه  د وروري  یوه  هیله کوو، چي  زموږ  په  دې نېک تصمیم کي موږ  ته لاس  را کړئ  ترڅو تاسو هم له دې لوړ ثواب  څخه برخمن شئ .

بایدزیاته کړو، چي له یوې خوادمیرویس نیکه  دجومات  میاشتنی کرایه  تقریباً دری  زره ایوروته  رسیږي اوله بلي خوادا وخت هم په  منډه منډ ه تېرېږي   نواوس  تاسو فکر وکړئ، که  موږ  شل کاله  کرایه  ورکړو دا به تقریباً   ۷۰۰۰۰۰ اووسوزرو ایورو ته ورسیږي نو ولي ددې  همت  ونه کړو، چي په  یاد مصرف یوملکیت واخلوڅو هم خدای (ج) راڅخه  رضأ وي  هم له دې مصارفوڅخه خلاص شو اوهم مودخپل  راتلونکي نسل لپاره یوڅه کړي وي .

اوس نو زموږ  هغه درانه  هېوادوال، چي د الله تعالی لپاره  غواړي  له موږ  سره مرسته  وکړي  د میرویس نیکه جومات بانکي شمېره په لاندې  ډول  سره ورته لیکو:

۸۶۷ ۳۵۷ : 658 Konto-Nr

۷۰ BLZ: 700 202

تیلیفوني شمېرې :

دحاجي صاحب احمد احمدزي شمېره ۰۱۷۴۷۱۷۰۷۰۰

دحاجي صاحب حبیب الله فیضي شمېره ۰۱۷۹۵۰۰۱۹۹۲

**یادونـــــــــــــــــــه :**

په مننه اوکوروداني سره بایدووایم، چي  د فاتحي  په اخبرکي دمیرویس نیکه جومات  له  مشرتابه  هیئت  څخه دیو تن  وطن  دوست افغان  لخوا ټولوګډونوالوته دختم  ډوډی برابره  شوې وه  زموږ خویندو او ورونو د ډوډی له  صرفولو(خوړلو) څخه وروسته  د دعا په کولو سره خپلو کورونو ته  تشریف وېوړ.

کوم  څه، چي په  یاده فاتحه کي  شخصأمابسمل  ته  د خوښي  او لا زیاتي امیدواري  هیله  را پیدا کړه  هغه زموږ  د ګڼ شمېر  هېوادوالوصمیمیت او ګډون و.

دلته په جرمني کي معمولاً د روخصتي په ورځ په تېره بیاچي هواهم توده اوښایسته لمر خپلي زریني وړانګي وېشي نویوشمېرکسان بیاپه مېلواوکبابوپسي ګرزي خوله نېکه مرغه ، چي ددې فاتحي ګډونوالود پنجوایي له مظلومو شهیدانو اوخپل کړېدلي هېوادسره خپله پاکه مینه وښوده، په اخلاص سره راغلل اودا لمرنۍ ورځ يې له موږ سره دمیرویس نیکه په جومات کي تېره کړه بیایي هم کور ودان زه پخپل وا رله دوی ټولوڅخه مننه کوم خدای(ج) دې دوی ته اجرونه، ګران افغانستان او افغان ولس ته خپلواکي او سوله ورپه برخه کړي .

الله امین یاربالعلمین

http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/18067

دپنجوایي شهیدانو ته ډالۍ شوی غزل

وحشت رااخیستي

ماښام راسوځي شپه راسوځي شین سهار اسوځي
غرمه اوزېړمازدیګرى هم دا غدار راسوځي

راغلل جامو کي دملیار چي زموږ وطن کړي سمسور
چمن راسوځي بڼ را سوځي لاله زار راسوځي

دلته راغلي ګورګښان په مرستیالي لباس کي
کلي بانډي يې کړل رالوټ اوس کوهسار راسوځي

هغه چي میندو پکي راوړل اتلان نرۍ ته
دلر اوبر دزړګي سر لوى کندهار راسوځي

زړه مي ترق چوي شهیدان دزنګاوات چي کړم یاد
غرېو مي مرۍ ونیسي اه مي دزړه ښار راسوځي

هم دبابا ولي زیارت هم چهل زینو په سرکي
سلګۍ مي واخلي زه وېرېږم شامزار راسوځي

دمیرویس خان په مېنه اوربل دى لا نه يې وینئ
احرمن سري لمبي راوړي نوبهار راسوځي

پایلوڅو پاڅئ یو ځل بیا له ګوره سر راجګ کړئ

ستاسوپه چم کې سره ګلونه دګلزار راسوځي

ارغنده ته ولې ویده یې غوړمبهار د څه شو
هلمنده لاس ورکړه پکتیا او ننګرهار راسوځي

ته سوله ماتي سوله ساتي بولې ړونداو کوڼ شي
ته یې لا نه ویني زرین تاریخ د پلار راسوځي

هم یې له ستوني یو نیولي هم ځان دوست رابولي
خیبر به وران کړي په وﷲ بیا به مزار راسوځي

له کربښي داخوااخواجوړپه پښتنو محشر دی
سوات پېښور یې کړل راوران پاړه چنار راسوځي

دابدالي زور یې لیدلی وار له موړه اخلي
دا دګورګین بچوني ګورئ زموږ وقار راسوځي

ډېوې یې مړې کړې دمحفل نغمې خاموشي سولي
شهباز په ګوتو کې سا ورکړله ستار راسوځي

شېخ دشیطان تر وزرلاندې جنتونه غوښتل
کورته یې راوست هم مو ننګ هم افتخار راسوځي

موږ تودول خپلو لستونو کې ځانو ته ماران
اوس مو دا دنګ دنګ پښتانه لکه چنار راسوځي
بســـــــمله ته ولې ګیله کړې له داړونکوخلګو
وحشت رااخیستي نن کونړ سبا تخار راسوځي
ماښام راسوځي شپه راسوځي شین سهار اسوځي
غرمه اوزېږمازدیګری هم دا غدار راسوځي